د کتابتون لارښود      پښتو (Pashto)

# کتابتون د ټولو لپاره دی

کتابتون یو کلتوری مرکز او د مطالعې ځای دی. هلته کولای شی کتاب ولولی، وخت تیر کړی، د انډیوالانو سره وګوری او په ډول ډول غونډو کې ګډون وکړی.
د کتابتون کارکونکی ستاسو په خدمت کی دی، ستاسی سوالونو ته ځواب درکوی او کتابتون درپیژنی.
دا کارکونکی په انګلیسی ژبه هم معلومات درکولای شي.

## په کتابتون کی څه دی؟

کتابتون د کوچنیانو ، ځوانانو ، سړو او ښځو له پاره دی. له کتابتون ځخه کتابونه، ورځ پاڼی، فلمونه، سیډیګانی ، کمپیوټری لوبی او د ژبې د زدکړی مواد په پور اخیستل کیږی. دلته د فنلنډی ژبی د زدکړی مواد هم شته.
دلته د کوچنیانو لپاره تصویری کتابونه ، د کیسو کتابونه، فلمونه او مسویقی هم شته. په کتابتون کي نغمی او د موسیقی الی هم شته. په ځینی کتابتونونو کې د موسیقی کوټه(ټولګی ) هم شته، چی هلته کولای شی د مثال په ډول پیانو ولوبوی.

په کتابتون کي کولای شی د نړی د هر ګوټ ورځ پاڼی او مجلی ولولی. دکتابتون له کمپیوټر او انټرنیټ ځخه ګټه واخلی او په خپله ژبه هم د انټرنیټ له لاری ورځ پاڼی ولولی.

په ځینی کتابتونونو کې د کمپیوټر ریزوولو له پاره دکتابتون کارت ته اړ یاست . کولای شی چی مخکی له مخکی او یا سم دستی وخت ونیسی. د کمپیوټر له لاری کولای شي چې بریښنالیک ولولی ، معلومات ولټوی او یا کوم څه چاپ کړی. چاپول په بیه دی. په هر یو کمپیوټر کی مهم پروګرامونه ځای په ځای شوی دی.
په ځینی کتابتونونو کې سکنرونه(هغه اله چی د اسناد(هر څه چی لیکل شوی ) نه عکس اخلی ) او د ګڼ شمیر ژبو کیبورډونه هم موجود دی.
د تامپری په ښار کې له تیتو توری (Tietotori ) او نیتی نوسی (Netti-Nysse ) نه هم کولای شی د کمپیوټر او انټرنیټ په استعمال کی مرسته ترلاسه کړی.

کتابتون ته راتلل، د موادو پور اخیستل او د کمپیوټر استعمالول وړیا دي.

## ځنګه کولای شی د کتابتون کارت ترلاسه کړی

هر ځوک کولای شی د کتابتون کارت ترلاسه کړی. هر ځوک چی غواړی کتابونه په پور واخلی د کتابتون کارت ته اړتیا لری. دا کارت په ټوله پیرکانما(Pirkanmaa ) کی د استعمال وړ دی. تاسو د کتابتون د کارت لاسته راوړلو په وخت کي عکس لرونکی سند ته اړتیا لری.

د ۱۵ کالو نه کم عمر لرونکی ځوان دکارت په غوښتنلیک کې د خپل مور ،پلار او یا ساتندونکی لاسلیک ته اړتیا لری.

د کتابتون لمړی کارت وړیا دی او هر څوک خپل کارت لری. خپل کارت بل چا ته مه ورکوی.
که چیری کارت مو ورک شی نو په بیړه کتابتون ته خبر ورکړی. هر کارت خپل رمز(PIN) لری او کولای شی هغه لاسته راوړی.

## په پور اخیستل او واپس کول

د پور اخیستلو وختونه د دوه او څلوراونیو لپاره دي. کله چی کوم کتاب یا نور د اړتیا وړ مواد له کتابتون څخه په پور اخلی نو رسید درکول کیږی او په رسید کی د واپس کولو نیټه هم لیکلی وی.
که چیری غواړی چې نیټه ئی نوره اوږده کړی، او بل چا دا ریزرو کړی نه وی، نو کولای شی چی نیټه یی د کتابتون ، دانټرنیټی پاڼی(PIKI- verkkokirjasto) او یا ټلفون له لاری نوی کړی.

که چیری د ټاکلی نیټی نه وروسته ئی واپس کړی نو جرمانه به هم ورکوی. د پور اخیستلو او واپس کولو مسئولیت ستاسی دی او هر هغه څوک چی د کتابتون قوانین په نظر کی نیسی د پور اخیستلو حق لری.

## ریزروول

کولای شی چی مخکی له مخکی کتابونه او نور د زدکړی مواد ریزرو کړی. کولای شی چی ریزرو د کتابتون او دانټرنیټی پاڼی له لاری و کړی. ریزروول وړیا نه دی. د کوچنیانو او ځوانانو کتابونه او نورو موادو ریزروول وړیا دی.

## څنګه کولای شی کتابونه او نور مواد پیدا کړی؟

په کتابتون کی د زدکړی مواد په مختلفو ځانګو ایښل شوی او د هری موضوع مواد په ځانګړی الماری کی ځای په ځای شوی دی. د هری موضوع لپاره خپل لمبر او ځانګه ده. د مثال په ډول د فنلنډ د جغرافیه ځانګی لمبر ۴۲ دی.
کتابونه په الماریو کی د الفابا او د لیکونکی د فامیلی نوم په اساس تنظیم شوی دی.
خیالی کیسی د ژبی په اساس تنظیم شوی دی.

معلومات د کتابونو په اړوند چی چیری دی، کولای شی د کمپیوټر له لاری ولټوی.
کولای شی چی د ځانګی، لیکونکی او موضوع په اساس یی هم ولټوی. د کمپیوټر له لاری دا پته هم لګولای شی چی کتاب په پور ورکړل شوی، په نورو کتابتونونو کی دی او یا ریزرو شوی دی.
د کتابتون کارکونکی تاسی سره دګڼ شمیرکتابونو په لټه کی مرسته کولای شی.

په کتابتون کې د کوچنیانو له پاره کڼ شمیر سرګرمیانی دی. کولای شی لوبې وکړی او کیسې واوری. د دری(۳) کالو نه لوی کوچنیان کولای شی کتبتون ته راشی. د کیسې ویلو پروګرامونه په فنلنډی ژبه وی. د کوچنیانو له پاره د تیاتر ډرامې او داسې نور پروګرامونه هم نیول کیږی.

په کتابتون کې د لیکلو پروګرامونه، د لیکوالانو سره ملاقاتونه، کنسرتونه او ډرامې هم نیول کیږی.
په کتابتون کې پروګرامونه وړیا دی. په ځینې کتابتونونو کې د پروګرامونو له پاره ځای هم ریزروولی شی.
په کتابتون کې د پروګرامونه په اړوند معلومات له کتابتون، د کتابتونونو انټرنیټی پاڼو ،د محلی ورځ پاڼو او محلی راډیوګانو ځخه تر لاسه کولای شی.

## د کتابتون موټران

کومو ځایونو ته چې کتابتون نیژدی نه وی هلته د کتابتون موټر سټاپونه (دریدلو ځای) لری.
معلومات د کتابتون د موټر د تقسیم اوقات په اړوند کولای شی له کتابتونونو او د کتابتونونو انټرنیټی پاڼو ځخه تر لاسه کړی.

## کتابتون ته ښه راغلاست

د انټرنیټی پاڼی له لاری د کتابتونونو پتي او کاری وختونه ترلاسه کولای شي. هره یو کتابتون د ملی او بیننمللی کتابتونونو حسه ده. کتابتون یوه مشترکه د ناستی کوټه او د پروګرامونو(غونډو )ځای دی.